ketabton.com - The Digital Library



د کورنیو تودې غېږې سرې شوې په څه؟
د پېرو مېنو د نغرې ایرې مړې شوې په څه؟
د پېر ما شومان بابا! بابا! وایي خو پلار یې نشته
ګرځي ژوندي خو د ژوندون کولو لار یې نشته
له پېرو مېنو د بمونو دوړې پورته شولې
د پېرې بشرې وې چې د کور په ځای مځکې تورې شولې
زما امانه! په ما ګرانه! نن بیا هم اختر دی
ورځ د اختر ده ستا اختر دی، زما هم اختر دی

* * *

د اتول پېر دې چې په وطن کښې سور وحشت راغی
تاریخ تر یاد نه دی یو داسې بربریت راغی
د روس مړئیو په وطن کښې کودتا جوړه کړه
زمونږ پر مادي او معنوي شتو یې تالا جوړه کړه
د خپل باد ار تودې وسلې یې رامیدان ته کړلې
پر بې شرمه یې عناصر اتل افغان ته کړلې
څوک یې په توپو، مشینګنو او بمونو مړه کړل
نور یې په زاړه، زاړه وحشتونو، عذابونو مړه کړل

ketabton.com - The Digital Library



زما د مینې په دنیا باندې یرغل شوی دی!
زما د ناز ماڼۍ د ظلم اور ذرې ذرې کړه!

(نو): له مها،

له ما خوښي، له ما طرب مه غواړئ!
زه د الم د توپاني بحر پوشا خکی یمه
زه د ستم له اوره پورته یو بخرکی یمه!
زه د وحشت له تورو لړو نه راوتې یوه څریکه یمه!
زه د ویرونو له جهانه یوه اوښکه یمه!

* * *

زما د خوږ وطن تنکي - تنکي ځوانان ړه ړه دي!
زما په ګران وطن کښې پېغلې شته دي، نجونې نشته دي!
خو توری سترګې یې د اوښکو بهیرو وینځلې
په نرمو شونډو باندې زنګ د د ندا سوړ لړي
پتري د وینو یې نیولي وي تل،
وربل یې جړ دی.
د ګودرونو له ځنګونو د سنګرو ځنګ ته
دي را تول شوي -
له غلیم سره په غزې وهي.

له ما ،

له ما خوښي، له ما طرب مه غواړئ !

۱۳۶۱/۷/۱۷

پېښور، کچا ګړيانو

## ټي، بي*

په خپل کلي، خپل وطن کښې روغ رمټ وو
شو مرګونی رنځ ناڅاپه را عيـــــان
وو " ويروس " يې له وروس څخه را غلی
د ټي ،بي په رنځ تباه شول افغـــانان

۱۳۶۱/۷/۱۱ پېښور

## نقاهت*

د ټي ،بي له رنځه خلاص شو که خدای کاندې
بس اوس پاتې يې دوره د " نقاهت " ده !
سور سحر يې سره ماښام ته رســـــيدلی
د روسي سنګېلاک تخته د ميخ ترکت ده

۶۵/۳/۱۰ پنجاب ، لارنس پور

---

* ټ.بي د تره کي او ببرک د نوموړو د سرتکي دي چې د توبرکلوز د ناروغۍ نوم هم دی او دا نوم دا ځلس کاله د واړو دلوته په کابل کې اخيستل کېده، نقاهت هم د نجيب د نامه له سرتکي څخه جوړ شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library



که زما کوریې کړ ایره مسکو هم ولړزېده
په کرېملین کښې په تختونو باندې اوربورې شو

***

چې د پولینډ کارګر څوټک دی را اخیستی پسې
د روس په لوراو څوټکونو باندې اوربورې شو
چې هم اوس پوه شو چې مارکسیزم دی تریاق د خلکو
چې د مارکسیزم کتابونو باندې اوربورې شو
د کمونیزم شرارت د نیا لنبه - لنبه کړه
په کمبودیا او ویتنامونو باندې اوربورې شو
چې دي پیلي یو د بل ترڅنګ چمتو ولاړ دي
په ناپېیلو هیوادونو باندې اوربورې شو
لوی قدرتونه یو و بل وته په شا تېـــوي
ایران ، عراق په اولسونو باندې اوربورې شو
په مونږ قیامت دی خو د زړه دوك به موووږ ته
کړه په دې لویو قدرتونو باندې اوربورې شو
چې زور حق بولي د ویتو حق د هغوی دی پکښې
نور په ملګرو ملتونو باندې اوربورې شو

ketabton.com - The Digital Library



# بریالی پاڅون

هر افغان ؤ خپل کور خوښ او مسعود
خپل یې شته ، خپل یې تاوان ؤ خپل یې سود
دعادي ژوندون ښتن وو خپل کورکښې
نزول هم نه ؤ کړ نه یې وو صعود
بل واکي نه وه ، خپلواک یې خپل وطن ؤ
واکداران یې که هر څو وو نامحمود
د خپل خدای په عبادت یې ملاکښه وه
د بل چا پیټي یې نه ووړ په وجود
افتخار او سرلوړي یې وه په برخه
په خپل ژوند په خپل وطن وو تول خوشنود
په خندونو بریدل او پرېخ تلل به
کړ کوله به یې هڅه د بهبود
خو څو کسه نا خلف پکښې پیدا شول
کړل یې ړنګ د عقیدې پاخه حدود

ketabton.com - The Digital Library



په کابل کښې   سهار مل کښې
پورته غبرګ   دا يو څوبرګ
«مړه روسان شه!   مړه خلقيان شه!
روس دې دروځي!   زموږ له سيمې!
روس دښمن دی!   روس ميرڅمن دی!
روس نه غواړو!   روس نه غواړو!
آزادۍ ته!   خپلواکۍ ته!
به رسېږو!   نه ستنېږو!»
په دې چيغو   په دې کريغو
راتلل ښار ته   زرنګار ته
څو هجوم کړي   روس محکوم کړي
دې بېهير ته   «جوی شير» ته
روس ټانکونه   او پوځونه
ور چمتو کړل   سپي يې تو کړل
پر ځوانانو   پر پېغلانو
ور حمله شوه   در بله شوه
د ګوليو   په بليو
تويېدونه   زلمي نجونه

ketabton.com - The Digital Library



څو کسانو څو ځوانانو
کړلي منهې له دې غونډې
غړه ته ښکلنه تښتلنیدنه
خو یوې ځوانې قهرمانې
ورته غږ کړ جوړې ځوبکړه
"څه کړې؟ تښتې! ځان نه پوښتې؟
ژوند څنګه ولاړ وی! که بې واک وی -
ژوند ون نه دی! مرګ ترې ښه دی!"
په دې چیغه په دې تریغه
دوی په تېښته پرېښوه تېښته
حمله ورشول سینه سپر شول
مړه کوته ښووپکوته
هېر ترې مرګ شو تاریخ غږ کړ شو
د ملالې بې مثالې
احترام دی صد سلام دی
دې میدان نه دې ایمان ته
د افغانې
قهرمانې ۱۳۶۳/۱۱/۱۲

ketabton.com - The Digital Library



# د پژواک پژواک

چې مېږ په ملي واک، په ملي ځواک دی
چې دښمن د هر ښکېلاک، د هر زبېښاک دی
که هر څو تري لرې ځي بیا را نغبرګېږي
د اولس غوښن خلاصوي داسې پژواک دی

۱۳۶۵/۲/۲۸

# آسیا

په افغان او په لبنان کښې کربلا ده
په ایران عراق ښار له لوبلا ده
د انسان د ګګرو داني دل کېږي
آسیا ځکه سرګردانه ده، آسیا ده

۱۳۶۵/۱۱/۲۱

